(c) ketabton.com: The Digital Library



کي ژر په ژر يو جګړه پېښه سوه او پر انګلیس يې داسي حال جوړ کي چي ډېرو ضابطانو يې ټپونه واخيستل نا اميد پر شا ولاړ.

دوه ويشتمه د شعبان د مياشتي وه چي محمد اکبر خان د باميانو د خوا څخه کابل ته راورسېده د پښتنو سره يې ملا وتړله مل يې سو.

په دغه ورځ د انګليس رايه پر دې سوه چي پر بېمارو[83] (بي بي مهرو) لاس ومومي وزير مختار شلتان يې وګماره چي وخوځېږي وروسته ده سره له ميجر کارشه لښکر وخوړاوه تر څو چي هغي قلا ته ورسېده چي پر هغه کلي سپره وه زياتي تر يوه توپ له دوی څخه بل څه نه وه او په قلا کي فقط ځلو ښت تنه استېده.

شلتان پر ميجر شتوين او ميجر کارش رېغ وکی چي پر قلا هجوم وروړي مګر دوی پر غير عادي لار يرغل وروی، د پښتنو تر توده لاندي ويده يوه ټولی تري نه مړه کړه سوه پخپله ميجر شتوين ټپ واخيست، شلتان چي دا حال وليده ميجر کارش او سلو تنو مهند سينو ته يې امر وکی چي په زښته تلوليږ ورځ يو استحکام ساز کي چي دوی له دې بلا نه وژغوري، د استحکام کار لا نه و تمام سوی چي د کابل د وګړو څخه لس زره مېړه په سترګه سوه چي پر غره ولاړ دي او دا غر هم پر دوی سپور دی او ګولۍ يې هم دوی ته رارسي.

ژر په ژره کولونل او ليور امر کړه سوه چي لښکر تيار کي او د قلا په څېر يې ودروي او سپاره د دوی تر شا ودروي هم په دغه توګه پر پښتنو يرغل وروړي.

د پښتنو سپرو چابکي وکړه د دوی پر ښی خوا يې يرغل وروړ، ليفټېننټ واکر يې

---

[83] په کوټه چاپ کي: "بېجارو نومی کلی " ليکلی دئ؟

